د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

د مهاجرت ټولنیز او اقتصادي اغیزې – آیا رسنیو دغې اغیزې ته بسیا پاملرنه کړیده؟

کابل، د ۱۳۹۵ کال د غویی د میاشتی ۱۱ نیټه – افغانستان د هیواد د یوې دوامدارې پراختیا او سوکاله راتلونکي د پاره خپلو ځوانو او روزل شویو ګړو ته اړه لري. دا په هرات کې د رسنیو د غونډې پایله وه چې د افغانستان د شمال د ژورنالیستانو د ټولنیزې ټولنې (سنجا) او د افغان-المان د همکاری د پروګرام له خوا جوړه شوې وه.

په دې غونډه کې پر افغانستان باندې د مهاجرت د ټولنیزو او اقتصادو اغیزو په باب او داچې آیا رسنۍ دې خبرې ته واقعاً بسیا پاملرنه کوي خبرې اترې وشوې. یو څو تنو کارپوهانو په دې باب وینا وکړې او خپلې نظریې یې روښانه کړې. وروسته بیا د شاوخوا ۸۰ تنو ژورنالستانو چې په نومورې غونډه کې ګډون کړی وو، د دې فرصت ترلاسه کړ چې خپلې پوښتنې مطرح کړي او خپلې نظریې د نورو سره شریکې کړي.

د خبرو اترو په سر کې لاندې دري تنه افغاني کارپوهان ځای درلود: د مهارجرو او عودتکوونکو د وزارت د حقوقی ساتنې رئیس ښاغلی مرتضی رسولي، د هرات د پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي ښوونکی ښاغلی بشیراحمد بشارت، او د افغانستان د لودیزو ولایتونو د مدنې ټولنې د سازمانونو همغږکوونکی ښاغلی خلیل احمد پارسا.

ټولو ویناکوونکو وویل چې افغاني رسنۍ کولای شي د مهاجرت د منفي پایلو په باب د خلکو د پوهاوي د کچې په لوړولو کې مهم رول ولوبوي. هغو په غونډه کې د برخه والو ژورنالیستانو سره په یوه غږ هوکړه وکړه چې مهاجرت د افغانستان د ستونځو د له منځه وړلو د حل سمه لاره نده. سربیره پردې، مهاجرت د هیواد په اقتصادی ودې او ټولنیزې سوکالۍ باندې منفي اغیزه کوي.

ښاغلي مرتضی رسولي هیواد ته د بیرته ستنیدو او د افغانستان د بیارغونې سره د مرستې په موخه د هیواد نه بهر افغانانو د قناعت ورکولو په لاره کې د مهاجرو او عودتکوونکو د وزارت د هڅو په باب توضیحات ورکړل او زیاته یې کړه: "مونږ د هیواد د نورو وزارتونو او نړیوالو سازمانونو په همکاری هڅه کوو چې هیواد د افغاني کارپوهانو بیرته ستنیدل تشویق کړو. د افغانستان حکومت د کار د منځته راوړلو او د خصوصي پانګې د جذبولو په باب یو لړ پلانونه طرح کړیدي." خو ښاغلي بشیراحمد بشارت توضیح کړل چې دا ډول هڅې د هیواد د ډیرو زیاتو افغانانو د مهاجرت له کبله بې اغیزې شوې. دا کار د بشري سرچینو د له منځه تللو سبب ګرځي چې د هیواد د ګټو او اړتیاو پرخلاف عمل کوي.

ښاغلي خلیل احمد پارسا زیاته کړه چې مهاجرت نه یوازې د یوه فرد د لرلید نه باید وڅیړل شي: "زه د یوه مدني فعال په توګه ګورم چې مهاجرت تل پر ټولنه باندې په مجموع کې ډیره زیاته اغیزه کوي. که چیرې زیاد شمیر وګړي خپل هیواد پریږدي، نور هم دې هڅول کیږي چې بهر ته مهاجر شي. له دې امله مونږ باید داسې یوې پریکړې ته د یوه ډیر پراخه لرلید له لورې وګورو. او ډیره مهمه ده چې په دې باب په مسئولیت سره چلند وکړو".

د نومورې مباحثې نه وروسته، د پوښتنو او ځوابونو ناسته پیل شوه: ټولو کارپوهانو د ملي او ځائیزو تلویزیونو، رادیوپي ستیشنونو او ورځپانو شاوخوا ۸۰ ژورنالستانو پوښتنو ته ځواب ووایه. ښاغلي مرتضي رسولي د مهاجرو او عودتکوونکو وزارت د اوږدمهاله پلانونو په باب د یوې پوښتنې په ځواب کې داسې وویل: "د مهاجرو او عودتکوونکو وزارت یو شمیر لنډمهاله او اوږدمهاله پلانونه هم د مهاجرت او هم د راستنیدو د پاره برابرکړیدي چې په هغو کې یو مفصل پنځه کلن ستراتیژیک پلان شامل دی. دغه پلان د وزارت په انترنتي مخ کې لیدلای شی".

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de

د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

په نومورې غونډه کې برخه والو ژورنالستانو همدارازوغوښتل په تیر کال کې د افغانستان نه د مهاجرت د اقتصادي اغیزو په باب معلومات په لاس راوړي. ښاغلي بشیر احمد بشارت وویل چې مهاجرت پر افغانیو پیسو باندې هم ډیره اغیزه کړیده. څرنګه چې د اسعارو د نرخ په لوړیدو سره د صنعتی شرکتونو دپاره د بهر نه د محمولو واردول ګران تمامیږي، دغه کار د هیواد د مولدیت د کمیدو سبب ګرځي او په پایله کې د کارموندنې کچه راټیټیږي.

"په ۲۱۰۲ کال کې د رسنیو غونډې – د افغاني رسنیو ټولنیزه دنده" دهغو منظمو ناستو سلسله ده چې د افغان-المان د همکاری د پروګرام او د سنجا د ټولنې له خوا جوړیږي. په دغو ناستو کې د دولتي سکتور کارپوهان، د مدني ټولنې، پراختیایي سازمانونو او رسنیو استازي د مهمو پراختیایي پوښتنو په باب د خبرو اترو په موخه راغونډ یږي.

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de